یادداشت: نوشتهٔ آتی «دحزب اسلامی نوی طرحه» صرف غرض اطلاع به خوانندگان گرامی به نشر می رسد.

**********

حزب اسلامی ۲۰۱۰/۰۲/۱۹م

# د افغانستان د رواني کشالي د حل لپاره د حزب اسلامي نوې طرحه (د ژغورني ملي میثاق)

ړومبی خبروي :
حزب اسلامي افغانستان تل دا هڅه کړی چې ولس د اسلامي نظام تر سیوري لاندې د امن او سوکاله ژوند ولري، جګړه د تل لپاره خاتمه ومومي او د ولس ټولي پرګني د هېواد په برخلیک ټاکلو کي فعاله ونډه و لري- روانه جګړه هم چې د یرغلګرو له خوا په افغانانو تپل شوې د هېواد او ولس مادي او معنوي ارزښتونه او شتمني له مینځه وړي او څومره چې اوږدیږی هومره یې منفي اغېزې زیاتیږي. همدې ټکي ته په پام سره حزب اسلامي د یرغل د پای ته رسیدو او جګړې د خاتمې په موخه یوه نوې طرحه وړاندې کړیده. د حزب اسلامي یوه مسؤول مقام چې د نوم نه ښودلو په شرط یې دغه طرحه، د شهادت په واک کې ورکړې ده دا هم وویل چې دغه طرحه د قضیې له یو شمېر اړخونو سره مطرح شوې چې ځینو یې موافقه هم ورسره ښودلې ده. دا ده شهادت ورځپاڼه د همدغې طرحی بشپړ متن د درنو لوستونکو خدمت ته وړاندې کوي، هیله ده په اړه یې د لوستونکو نظریات هم تر لاسه کړو داتاسو او دا دطرحې متن.

بسم الله الرحمن الرحيم

د ژغورني ملي میثاق:
موږ د الله تعالی په نامه ژمنه کوو چې له روان دردناك حالت نه د هېواد د ژغورلو لپاره یو بل ته لاس ورکوو چې جګړه د تل لپاره پای ته ورسوو، په هېواد کې دایمن امنیت تأمین کړو، له بهرنیو ځواکونو نه فارغ او د پردیو له لاسوهنو نه خوندي افغانستان جوړ کړو، خپل ملي وحدت لازیات مضبوط کړو او ملت ته دا موقع برابره کړو چې د خپلې خوښې زعامت غوره او د خپلې عقیدې او باور مطابق نظام جوړ کړي. دغو لوړو او سپېڅلو اهدافو ته د رسېدو لپاره مو په لاندې طرحې توافق کړی:

١. بهرني ځواکونه دي د روان میلادي کال د جولای په میاشت کې له هیواده وتل پیل کړي او د شپږو میاشتو په ترځ کې دي هغه بشپړ کړي.
٢. په دې مودې کې دي له ښارونو او ګڼ مېشتو سیمو نه ووځي او په عسکري مراکزو کې دي ځای په ځای شي.
٣. د امنیت چارې دي په بشپړه توګه ملي اردو او پولیس ته وسپارل شي، بهرني ځواکونه به د افغانستان په هیڅ ګوټ کې او په هیڅ حالت کې په خپل سر د نظامي عملیاتو، د کورونو تلاشې او نیونو حق نه لري.
٤. اوسنی حکومت او پارلمان دي تر هغه خپل کار ته ادامه ورکړي چې د دې معاهدې مطابق انتخابات تر سره کېږي او نوې منتخبه شوری او منتخب حکومت رامنځته کېږي. خو په دې حکومت کې به متنازع فیه څېرې او په فساد، ملي خیانت، بې دیني او جنګي جنایاتو تورن کسان نه وي. همداراز د حکومت د دری ګونو امنیتي قواوو په مشرتابه کې به داسې کسان نه وي چې د یوې ډلې په پلوي او د بلې ډلې په ضد جنګېدلي وي.
٥. د ټولو افغاني لورو په اتفاق به د ملي امنیت په نامه یوه داسې اوه کسیزه شوری جوړېږي چې په مهمو ملي مسایلو کې به د وروستی پرېکړي واك ورسره وي، د دې شوری مقر به په داسې ولایت کې وي چې امنیت ئی په بشپړه توګه د افغاني ځواکونو په لاس کې وي او هیڅ بهرنی ځواك په کې نه وي.
٦. د بهرنیو ځواکونو له وتلو وروسته به د ١٣٩٠ کال په پسرلي کې د متناسب تمثیل پر بنسټ د جمهوري ریاست، ولسي جرګې او ولایتي شوراګانو لپاره یو ځای، یو ځل او همهال انتخابات تر سره شي.
٧. په دې انتخاباتو کې د حکومت د کابینې غړي او والیان یوازې په هغه صورت کې د برخې اخیستو حق لري چې د انتخاباتو تر نیټې دری میاشتې مخکې له خپلې دندې استعفا وکړي.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولـئ

۸. په لومړي منتخب حکومت کي به د هر لوري برخه د هغه د آراوو په تناسب وي او له شورى نه به د اعتماد رأيه ترلاسه کوي، خو تر دې وروسته به بریمن لورى پر دې مکلف نه وي چي ائتلافي حکومت جوړ کړي.
۹. هغه حزب یا انتخابي مجموعه به په بعدي انتخاباتو کي د برخي اخیستو حق لري چي په لومړي انتخاباتو کي تر لس په سلو کي زیاتي رأيي ترلاسه کړي.
۱۰. په دې موده کي به په جګړو کي د ښکېلو لورو تر منځ بشپړ اوربند تأمین وي، ټول سیاسي بندیان به خوشي کېږي، ټول لوري به ژمنه کوي چي له دې وروسته به نه قدرت ته د رسېدو لپاره ناروا لاري لټوي او نه به د خپل حریف او رقیب د ځپلو لپاره وسله کاروي.
۱۱. لومړۍ منتخبه شورى به دا حق لري چي د دریو لورو له خوا اعلان شوي اساسي قوانین وڅېړي او د هیواد د اساسي قانون په اړه وروستۍ پرېکړه وکړي.
۱۲. هیڅ بهرنى هیواد به دا حق نه لري چي په افغانستان کي زندان ولري، کوم افغان محاکمه او مجازات کړي، یا ئې د محاکمي لپاره بهر ته انتقال او په بل ځای کي ئې محبوس او محاکمه کړي.
۱۳. په اختلاس، د مخدره موادو قاچاق، د ملي شتنمیو په غصب او په جنګي جنایاتو تورن کسان به شرعي محکمې ته سپارل کېږي او هیڅ لورى به له هغوى نه په ځرګنده یا پټه توګه دفاع نه کوي.
۱٤. د بهرنیو ځواکونو له وتلو وروسته به بهرني جنګیالي هم په افغانستان کي نه وي.
۱۵. کوم کورنى او بهرنى لورى چي د روغي جوړي له دې میثاق سره مخالفت او د جګړي پر دوام ټینګار وکړي موږ ټول به په ګډه او تر هغه د جنګ د غوښتونکو مقابله کوو چي خپل هیواد او ولس د هغوى له شر نه وژغورو.
والله على ما نقول وكيل

پایان


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
**یادونه**: دلیکني د لیکنیزې بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولئ